# غني خان
# د فکري بغاوت او ادبي اجتهاد
# یوه ځانګړې حواله

ریاض تسنیم



هرکله چې یو ملک د یوې اوږدې مودې د غلامۍ سره مخ وي، قام د فکري، سیاسي، علمي او معاشرتي جمود ښکار وي، د معاشرې سوچ غلام او د معاشرې ترجمانان یعنې د قلم خاوندان د مودو راهسې د یوې زړې او روایتي لارې نه بل خوا قدم اخستل کفر ګڼي او المیه دا چې په خپل دغه حالت مطمئن هم وي، په داسې وخت کښې په ادب، شاعرۍ، ژوند، فکر او فلسفه کښې د اجتهاد لاره ویستل او د مثبت انفرادیت دپاره د مروجه لارو نه د بغاوت جرات کول ډېر مشکل خو ډېر ضروري وي او چې رښتیا خبره وي نو د داسې جرات توفیق ډېرو لږو خلقو ته نصیب کېږي۔ غني خان هم په دغسې دور او حالاتو کښې د فکري بغاوت او ادبي اجتهاد جرات کړے دے.

دا د 1930م خواوشا زمانه وه کله چې غني خان د خپلې شاعرۍ ابتدا کوي، دا وخت متحده هندوستان د یوې لویې غلامۍ نه راتېرېږي او هم دغه دور کښې د وطن د ازادۍ دپاره د انګرېز خلاف په سیاسي تحریکونو کښې تېزي راځي، د اولس سیاسي او معاشرتي سوچ متحرک کېږي، پښتانهٔ هم د نورو قامونو په شان د ازادۍ په تحریک کښې برابره برخه اخلي، چې مرکز ئې د غني خان سیاسي کورنۍ ده، د قیصه خوانۍ خونړۍ واقعه او په پښتنو د انګرېزانو نور بې شمېره ظلمونه هم د دغه دور داستانونه دي. دغه ټول عوامل نېغ په نېغه په پښتو شاعرۍ او نورو ادبي اصنافو اثر غورځوي چې په نتیجه کښې ئې یو

خوا په سټېج د زنده باد، مُرده باد چغې وهونکي د سطحي لهجې شاعران راپېدا کېږي او بل خوا د غني خان غونډې د شلمې صدۍ د پښتو شاعرۍ يوه ځانګړې او مضبوطه حواله. د غني خان د ابتدائي شاعرۍ منشور هم د دغه دور د حالاتو پېداوار دے، د دغې نه پس هغۀ د کائنات تصوير، د انسانانو د خدائے سره تعلق، عشق، د ژوند او مرګ فلسفه، قامولي او نورې ګڼې سماجي او معاشرتي مسئلې د خپلې شاعرۍ موضوعات ګرځولي دي.

د غني خان د شاعرۍ د عظمت بنياد د هغۀ انفراديت دے خو دا انفراديت يک رُخه نۀ دے بلکې همه جهت دے، د دې انفراديت بنياد د هغۀ فکري بغاوت دے، ځانګړے اسلوب، د لهجې تازګي، د مخصوصو لفظياتو انتخاب او استعمال، د خپلو ټولو همعصرو په مقابله کښې فطري غنائيت، د شعريت او سُراو تال نه ډکه فضا، ټوله د آمد شاعري او د ځانګړو موضوعاتو انتخاب، هغه د ژوند او کائنات د حسن او بدصورتۍ دواړو حقيقت پسندانه اظهار په يوه داسې روماني او خوابناکه لهجه کښې کړے دے چې د پښتو شاعرۍ په اوږد تاريخ کښې دا لهجه هم د هغۀ نه شروع کېږي او هم په هغۀ ختمېږي.

په دې کښې هيڅ شک نشته چې شلمې صدۍ مونږ ته د پښتو د ځلورو شاعرانو د شعر او فکر هغه اعلیٰ او ارفع ورثه پرېښې ده چې مونږ پرې په ځائے فخر کولے شو او د هغوي د نورو همعصرو شاعرانو د درجه بندۍ دپاره ئې د پېمانې په توګه استعمالولې شو او دغه ځلور نومونه د غني خان، قلندر مومند، اجمل خټک او حمزه شينواري نه سېوا نور څوک کېدے شي. دغه ځلور واړه د خپل



خپل فکر او خپلې خپلې لهجې مجتهدين دي او حقيقت هم دا دے چې د هرې زمانې لوئے شاعر د خپل دور مجتهد ضرور وي ځکه خو منفرد هم وي او د انفراديت دپاره د اجتهاد او تجربې رسک اخستل ضروري وي ــ مثال ئې د رحمان بابا په شکل کښې زمونږ په وړاندې دے:

چې دا نور شاعران کاندي، هغه نۀ کا
رحمان کړے نوے نوے اجتهاد دے

د پښتو شاعرۍ په تاريخ کښې د خوشحال خټک نه پس غني خان دوېم هغه رئيلسټک شاعر دے چې د خپلې شاعرۍ، فکر او نظريې د اظهار په لړ کښې د هر قسمه مذهبي، سياسي، حکومتي، معاشرتي او جغرافيائي مصلحتونو نه ازاد دے، د دواړو شاعرانو د بې باکۍ او جرات په شا د هغوي

سماجي مرتبه او خاني هم ده. په داسې وخت کښې چې د پښتو شاعري د جمود ښکار وه، غني خان د خوشحال خټک د جرات یاد تازه کړے دے.

زمونږ په وطن کښې مذهب او پښتو شاعرۍ کښې غزل هغه دوه مظلوم څیزونه دي چې هر هُماشُما ئې خپل ملکیت گڼي، د غني خان دا احسان هم کم نۀ دے چې غزل ئې معاف کړے دے او د خپل فکر د اظهار دپاره ئې د نظم چوکاټ خوښ کړے دے. د نظم مېدان د هغۀ د شاعرانه اظهار او ذهن عین مطابق دے. په نظم کښې هغۀ د هیئت او موضوع بې شمېره تجربې کړي دي کومې چې په غزل کښې ممکن نۀ وي.

څومره چې دا ژوند او د انساني فکر الوت وسعت لري،دغه هومره د غني خان د شاعرۍ موضوعات هم وسیع دي، د دۀ شاعري د خارج د منظرنامې سره سره د داخل د تخلیقي قوت او اوچت تخیل یو زبردست اظهار دے .دلته کۀ یو خوا د ملک په سیاسي نظام او د معاشرې په طبقو او کردارونو مثلاً مُلا، خان او ملک وغېره ژور طنز موجود دے نو بل خوا د شاعر دننه تنهائي هم د لیدو ده .کۀ یو خوا د انساني ژوند، خدائے او کائنات د ترون فلسفه ده نو بل خوا ئې قام پرست او مزاحمتي رنگ هم ځان ته څۀ وائي، کۀ یو خوا د ژوند او مرگ د فلسفې گرما گرم بحث دے نو بل خوا ئې د روماني او عشقیه موضوعاتو حق هم ادا کړے دے .د کمال خبره دا ده چې غني خان دا ټول موضوعات د یوې اوپره جذبې ترمخه د خپلې شاعرۍ لپاره لازم نۀ دي گرځولي بلکې دا د هغۀ د شخصیت او د هغۀ د فن نه نۀ جدا کېدونکي څیزونه دي او صفا ښکاري چې د دې موضوعاتو د بیان په وخت فنکار د څومره خلوص نه کار اخستے دے او هم دغه فنکارانه خلوص دے چې د دنیا د هرې ژبې د اعلی تخلیق د عظمت بنیاد گرځېدلے دے.



د مرگ او ژوند فلسفه د غني خان د خوښې موضوع ده، ژوند څۀ دے؟ مرگ څۀ دے؟ځواني څۀ ده؟ ددې دومره ښائسته ژوند انجام اخر مرگ ولې دے؟ آیا مرگ د ژوند د فنا پېغام کېدے شي؟ دې په ظاهره وړو خو په حقیقت کښې لویو سوالونو او بیا د دې جوابونو له د شعر ژبه ورکول د هر شاعر د وس کار نۀ دے.د فلسفې اهمیت په خپل ځائے خو فلسفه د شاعرۍ غوندې د لطیف فن حصه جوړول ډېر گران کار دے، غني خان په دې گران کار کښې کامیاب شوے هم دے او ځائے په ځائے ئې تیندک هم خوړلے دے.

د ځوانۍ او مستۍ د څُوم د تشېدو په موضوع "د غني کلیات" کښې دوه کامیاب نظمونه موجود دي چې د انساني ژوند دې تریخ حقیقت ته ئې د

شعر داسې رنګينه جامه وراغوستې ده چې د موضوع او شعر د اظهار حق ئې ادا کړے دے۔ دا دوه نظمونه دي: (۱) صنوبر (۲) ګلونه د ورخاړي

نظم "صنوبر" کښې لفظ "صنوبر" علامت دے د ځوانۍ د لوړو، اوچتو او مستو جذبو. په دې موضوع دا نظم د هغۀ د شاعرانه صلاحيتونو يوه نمونه ده۔ د نظم په ابتدائي مصرعو کښې د داسې استکارۍ نه کار اخستے شوے دے چې د هغې تاثير او سوز سړے خپله د باقي نظم لوستلو ته وپاروي.

لاس مې بند ژبه مې بنده
داسې ناست يمه ديګر
لکه ناست وي وزر ماتے
په ماښام کښې بازيګر

يو سوز دے، يو شاعرانه او مترنم وير دے او دا سوز او وير د نظم په وړاندې تلو سره سره شدت اختياروي:

چې په خُلۀ او ټيټې سترګې
د ګل خوا کښې ګونګے ناست دے
د خپل غم په ننداره کښې
ډوب مشغول دے صنوبر

او دا شعر د دې نظم نقطۀ عروج دے او کاش چې په هم دې شعر د نظم اختتام شوے وے:

د خزان جامې اغوستې
دي نرګس او نسترن

هم دغه د ځوانۍ د غم علامتونه نرګس او نسترن چې د خزان جامې ئې اغوستي دي يعنې په عروج پسې زوال جُخت ولاړ دے. مونږ ته په يو بل

نظم "ګلونه د ورخاړي" کښې د ورخاړي د ګلونو په شکل کښې مخې ته راځي، چې ژوند ئې فقط يوه ورځ وي او هم دغه د ځوانۍ د عمر مختصر دور ته اشاره ده. خو دلته شاعر د ورخاړي د ګلونو د هر ماښام د مرګ نه پس سبا بيا د خندېدو نه د انساني ژوند د ابدي غم د زغملو دپاره د حوصلې کار اخلي ۔ او د ټول انسانيت غم له د اميد يو مشال په لاس کښې ورکوي.

ګلونه د ورخاړي
د رنګ څاڅکي ولاړي
سحر په خندا تېر کړي
ماښام ټول وي خفه مړاوي

او د نظم دا بند د غني د هغې اميد د فلسفې اظهار دے چې دا ژوند د خپل تکميل په لور د جدوجهد يو تسلسل دے او دا چې د دې ژوند انجام مرګ نۀ دے.

ځواني د يو سحر ده
جمدون د يوې ورځې
بيا هم ما نه نران دي
چې هر سحر خندان وي
او زۀ يو پوټي غم ته
د لړ ساعت تورتم ته
آدم د اوښکو نوم دے
په ګلونو پسې ژاړي

انساني ژوند چې د اعلی مقاصدو دپاره وي هغه د غني خان په ژبه يو نۀ ختميدونکے ابدي حقيقت دے، مرګ د دومره اعلی، ارفع او ښائسته ژوند انجام نۀ شي کېدے، د ميرتقي مير شعر دے:

مـــرګ اک مانـــدګي کـــا وقفـــه هـــے
يعنــــي آګـــے چلـــين ګـــے دم لےکـــر

په دې موضوع غني خان په نظم "خاورې" کښې د خپل فکر لوړوالی او شاعرانه عظمت ثابت کړے دے .د نظم په وړومبۍ مصرع کښې د ټول نظم خيال راغونډ شوے دے:

نۀ منم، نۀ منم ياره! مرګ انجام د هستۍ نۀ دے

پـه نظـم کښـې د مختلفـو علامتونـو ، تشبيهاتو او استعارو په مدد مرګ او ژوند په نوي نوي وجودي او تصوراتي شکل کښې قاري د خپل



ذهن په پرده ويني، په نظم کښې د ژوند تسلسل له د مستۍ، سبا، رڼا، بهار، عطر او ګلزار سره تشبيه ورکړې شوې ده او مرګ له د ماښام، تيارۀ او خزان سره، په نظم کښې ژوند او مرګ يو بل لپاره لازم او ملزوم څيزونه دي، د يوۀ درياب دوه غاړې دي خو د مرګ په مقابل کښې د اعلی ژوند اهميت په خپل ځائے قائم دے.

په قبرونو کښې پرتې دي، لاس او پښې شونډې او ګـــوتې
څوک شي قبر جوړولے، د دې سرو سترګو خمار لـــه

لاس او پښې، شونډې او ګـوُتې" د انسان د مادي وجود حصې دي چې خاورې کېږي خو اصل څيز هم دغه" د سرو سترګو خمار" دے چې د ابدي ژوند علامت دے او مرګ د دغې ژوند انجام نۀ دے. د نظم اخري مصرعې مونږ ته د مرګ د وقفې نه پس د اعلي او مقصدي ژوند دغه تسلسل بيانوي خو دومره په منطقي او شاعرانه انداز کښې چې دا صرف او صرف د غني خان سټائل دے.

ساقي نوی جام راواغشت، په سرو شونډو کښې مُسکے شـــو
بـــل عاشق ورته لاس ونيو، شکرانه ټولئ دلدار لـه

دغه" نوے جام" او "بل عاشق" د دغه تسلسل دوه بليغ علامتونه دي. خو د نظم دوه اخري مصرعې په کومو چې د نظم اختتام شوے دے ، د کتو دي:

مُلا بې سُره سُروره، تش کنډول د مـــرګي يوړۀ
خاورې خاورو لره لاړې، کنده وکنئ دې خوار لـه

د نظم په دې اختتامي مصرعو کښې غني خان مونږ د يو بل قسم له ژوند سره متعارف کوي چې هغه "تش کنډول" دے او مرګ په حقيقي معنو کښې د دغسې ژوند د اختتام پېغام دے، دا ژوند ابديت نۀ لري ځکه چې د اعلی مقاصدو نه محروم دے او شاعر ډېر په حقارت سره د دغې ژوند د اختتام دپاره د قبر په ځائے د "کندې" ټکے استعمال کړے دے. د "ملا" ټکے د غني خان د قاري دپاره نوے نۀ دے. د مُلا کردار د هغۀ په نزد هغه زهر قاتل دے

چې په معاشره کښې د ژوند د اعلی اقدارو، مقاصدو او د انسانیت د تکمیل په لاره کښې لوئے خنډ دے ـ دغه کردار مذهبي منافقت لوئے علامت دے چې د مذهب اصل مقصد معنی او روح د عوام الناس نه پټوي او بل خوا د فتوو په برکت د حکمرانۍ او استحصال کوونکې طبقې متې مضبوطوي او بل خوا یو داسې نسل پېدا کوي چې ذهني مفلوج وي او د خپل عقل او شعور نه کار اخستل ګناه کبیره ګڼي ـ

غني خان د شلمې صدۍ د نورو هم عصرو قام پرستو او مزاحمتي شاعرانو په شان د یو ذمه دار فنکار په حېثیت د فن تقاضې پوره کړې دي چې د هغۀ قام او د هغۀ چاپېرچل ئې د هغۀ نه په ځائے طمع لري ـ د هغۀ د شاعرۍ دا برخه کله کله د طنز شکل هم اختیار کړي ولې د خلوص په درد کښې ډوبه ښکاري او دغه طنز کله کله د کنځلو تر حده هم ورسي خو د هغۀ کنځل په سړي لکه د خوشحال خټک د کنځلو بد نۀ لګي. وجه ئې هم هغه خلوص او درد دے ـ د غني خان زړۀ د خپل قام سره په سیاسي، معاشرتي او معاشي بدحالیو او هره پېښه دردېږي او د وچت معیار دي چې مونږ ئې د قام پرستۍ په حواله د پښتو ژبې د اول صف په نظمونو کښې اینبودے شو ـ دغه قام پرسته درد او خلوص د هغۀ نظم "وصیت" کښې په شدت سره موجود دے، د نظم اخري شعر وګورئ:

یا به دا بې ننګه ملک باغ عدن کړم
یا به کړم د پښتنو کوخې ویجاړې

نظم کښې بېخي په مختصرو ټکو کښې د قام پرست او مزاحمتي فکر ټول منشور زمونږ په ورانډې اینبودے دے ـ په یو بل نظم ((خوشحال خان خټک ته)) کښې د دغسې فکر او جدوجهد




سرخېل ته د خپل قام بدحالي او زوال په یوه داسې لهجه کښې بیانوي چې کۀ یو خوا یاسیت لري نو بل خوا د خود تنقیدۍ یو شدید احساس نبغ په نبغه د یوۀ حساسه او باشعوره لوستونکي زړۀ ته پرېوځي او په اسباب ئې په خپله غور کوي:

آحجره چې تۀ ئې خان وې، آکاروان چې ته ئې میر وې
آحجره په ورانېدو ده، آکاروان دی بې مُهاره

د پښتنو د دغې حجرې د ورانوونکو او د دغه کاروان بې مهاره کوونکو (کۀ هغه خپل دي او کۀ پردي) خلاف شاعر خپله قلمي مزاحمتي فریضه ترسره کړې ده او دغه پښتون دشمنه او اولس دشمنه قوتونه ئې مونږ ته راپه ګوته کړي دي ـ د هغۀ "تارو" نومې نظم کښې دا مسلسل جدوجهد په دې رنګ کښې دے:

زۀ به تل حسېن یم او ښکاري به تل یزید وي
لاس کښې کله دام، کله ټوپک، کله لینده

دلته زۀ د دې موضوع په حواله د غني خان د هغه دوو نظمونو ذکر ضروري ګڼم چې د مزاحمتي فکر په بنياد د پښتو په نظميه شاعرۍ کښې د خپل اوليت نه علاوه هم اهم دي او دا دوه نظمونه دي "د ايلم د سر طوطيان" او "سوداګر".

نظم "د ايلم د سر طوطيان" د رياستي جبر خلاف د يوې ژوندۍ حوصلې پېغام دے او دا پېغام د نورو ژبو د ترقي پسندو شاعرانو د اواز نه په هيڅ ډول کم نۀ دے .د نظم د شروع مصرعې د ټول نظم بنيادي او مرکزي خيال واضحه کوي:

چــا بنــــد کـــړي دي پنجـــره کښـــې
د ايلـــــم د ســــــر طوطيــــــان

او د نظم دا بند د ټول نظم حاصل دے:

د بهــــار ولــــولې څنــــګ شــــي
څــوک د پښـــو لانـــدې کـــولې؟
کــۀ لکونــه ژونــدي، مـــړۀ کـــړي
ژونــد څــوک نـۀ شـي مـړ کـولے
چـــا د بـــوئي نـــه منـــع کـــړي
شـــــنۀ ګلونــــــه د ريحـــــان

دا نظم د دې خبرې ثبوت دے چې غني خان د ژوند په جدوجهد کښې د اميد او رجايئت قائل دے.

نظم "سوداګر" د غني خان يو نظرياتي او مزاحمتي شهکار دے، د دې نظم اسانه تشريح د احمد فراز په نظم "محاصره" کښې موجوده ده .غني خان دا نظم په **1948**ء کښې ليکلے دے کله چې په پاکستان او په خصوصي توګه پښتونخوا کښې د نظرياتي مخالفينو خلاف د رياستي جبر بازار ګرم وۀ او د احمد فراز نظم د جنرل ضياء د مارشل لائي جبر او تشدد د تورې شپې خلاف اواز دے. دواړه نظمونه د رياستي جبر د مکروهې څهرې نه پرده پورته کوي.د حکمراني طبقې د مختلفو کرتبونو او چالونو خلاف يو بې باکه اظهار دے .د نظم سوداګر په وړومبي بند کښې د حکمرانې او استحصال کوونکې طبقې د يوۀ داسې کردار غندنه شوې ده چې مذهب د خپلو مقاصدو د پاره استعمالوي:

عجيبـــه دا ســـوداګر دے
پـه لاس تېـغ پـه سـر قـرآن
شـــنه قبـــا ئـــې د امـــام ده
کلکــې ســترګې د شــېطان

دا نظم مونږ ته دا ښيي چې دغه سوداګر د خلقو ايمانونه ډېر په ارزانه بيه اخلي په دې لړ کښې د ظلم، جبر او دُوړې دېکې نه علاوه د پېسې نه هم کار اخلي او په وقتي اقتدار کښې د شموليت د ست نه هم. خو د دې ټولو چالونو خلاف د شاعر احتجاج او مزاحمتي لهجه د کتو ده:

ربـــه څنګـــه ســـوداګر دے
څنـګ ژونـد ورکـړم جهـان واخلـم
څنـــګ نظـــر د ســـترګو ورکـــړم
او چشـــمې د مرجـــان واخلـــم
څنـګ بهـار او سـپوږمۍ ورکـړم
د لالونـــــو ډېـــــران واخلـــــم
د دې ســرو د طــوق بــدل کښـــې
څنګـــه ديـــن او ايمـــان ورکـــړم

نظم ((ورو ورو)) د یوې قلندرانه خودۍ او اصول پرستۍ اړخ ته تګ کوي او دا لاندینۍ مصرعې د هم دغه پښتون قلندرانه شان د اظهار آئینې دي په کوم چې د شاعر د فن او نظریې اړانه ولاړه ده:

نهٔ دې لیدے سوداګره!
تا د سرې وینې غورځنګ
په ټیټ سر باندې نه ښائي
دا زما شمله د ننګ
د سرو زرو تخت قربان شه
په ازاد کند د ملنګ

----

تهٔ مغروره په خپل زور ئې
مونږ په مینه کښې سرشار یُو
راشه وګوره فرعونه
دا دونهه د ملنګانو
په دې خاورو کښې خورې دي
کپرۍ د بادشاهانو

د خپل دور هر جینئس په خپل دور کښې تنها وي او د تنهایۍ دغه شدت د هغهٔ فن کښې ځائے په ځائے موجود وي. دنیا او د دنیا خلق او د هغهٔ چاپېرچل چونکې د هغهٔ د ذهني سطحې مطابق نهٔ وي ځکه د خپل وجود دننه او بهر د یوې اذیت ناکې تنهایۍ ښکار وي. د خوشحال خټک شعر دے:

په جهان کښې به یو یو وي
چې هنر ئې د کیمیا زده

او رحمان بابا وائي:

لکه مړے د ژوندیو ترمیان پروت وي
هسې بیل یم لهٔ عالمه په عالم کښې

د فنکار دننه د غه تنهایۍ د کرب اظهار هغه فنکار په ښهٔ ډول کولے شي کوم چې د داخلي احساساتو په بیان قدرت لري. د غني خان په شاعرۍ کښې داسې کامیاب نظمونه شته چې مونږ ترې د شاعر د مضبوط داخلي عرفان او اوچت تخیل اندازه کولے شو۔ د شاعر دننه یوه مسلسله او ابدي تنهائي د کتو ده ۔ په نظم "پروت یمه یواځې" کښې شاعر د هغو ټولو اسائشونو او سهولتونو ذکر کوي کوم چې په سماج کښې هم هغهٔ ته حاصل دي او دا هم وائي چې د هغهٔ اصل نسل او کورنۍ درنه ده خو د دې هر څهٔ باوجود فنکار د خپل ذات دننه د تنهایۍ په کرب کښې مبتلا دے:

پاکه لویه خدایه! دا احسان دے کهٔ سزا ده
ژاړمه ګلونو کښې دا څهٔ برخه زما ده
عیش دې راله زهر کهٔ ارام راله بلا ده
رو د تېښتې نشته تېښته لا توره بلا ده
ولې دې زهٔ جوړ لکه مشال کړم ولې ولې
هله شي رڼا چې مې په سر لمبې شي بلې
وژنم کهٔ دا اور ګلزار او حسن شي خزلې

د دنیا د لویو شاعرانو په شان د غني خان په شاعرۍ کښې مقامیت دے او د خپلې خاورې سره نزدې او کلک تړون دے دا مقامیت د هغهٔ د فکر او شخصیت دواړو حصه ده ۔ د غني خان نه وړاندې دا خوبي مونږ ته صرف او صرف د خوشحال خان خټک په شاعرۍ او شخصیت کښې په نظر راځي ۔ غني خان کهٔ فلسفیانه بیان هم کوي خو د هغه په لفظیاتو کښې اشنغر، جیندے، لنډے، اباسین، پېښور، ماڼې، ایلم، سوات او شولګره موجود وي ۔ د خپلې خاورې سره مینه او د دغې خاورې او د دغه اولس د

برترۍ احساس د هغهٔ فن کښې ځائے په ځائے ښکاري، د هغهٔ نظم "سېل" د دغه قسم موضوع مکمل اظهار دے. د نظم په تمهيد کښې شاعر په سېل ووځي او د دنيا د مختلفو ملکونو او ښارونو کښې چې کوم ښائست موجود دے هغه بيان کړي، په دغو کښې د فرنګ جهازونه، د لندن او پېرس مستې او ګلبدنې جينکۍ، د اټلي شراب، د امريکې د شانداره عمارتونو نه علاوه د هندوستان تاج محل هم شامل دے. خو د دې هر څهٔ په مقابله کښې شاعر ته بيا هم خپل خړ پړ وطن جنت ښکاري:

خو چې ووينم زهٔ خپل د ختو کور
رانه هېر شي محلونه ښېشته نور
چې خړ مخے ورور پښتون سينې له
درشي
درنه هېر به ټول ښائست د بحر و بر شي
او په دې خبره د خدائے شکر ادا کوي
چې:
خدايه! شکر چې پېدا دې لهٔ دې قام کړم
د پښتون د نر وجود دې يو اندام کړم

د نظم په اخري شعر کښې د خپل قام او خپلې خاورې سره د مينې شدت انتها ته رسېدلے دے:

په والله چې د جنت نه به شم ستون
چې کنځل پکښې وا نهٔ ورم د پښتون

د غني خان نظم ګوئي د خپل دور يوه مضبوطه حواله ده چې د فکري بغاوت او ادبي اجتهاد سره سره يو خپل ځانګړے اسلوب لري، د دې شاعرۍ دا کرېډيټ هم کم نهٔ دے چې د دې د لوستو په وخت د قاري ذهن ته صرف او صرف د غني خان نوم راځي د بل يو شاعر نهٔ او زما په خيال د پښتو ژبې په لکونو شاعرانو کښې خپل انفراديت ساتل هم د معجزې نه کمه خبره نهٔ ده.